# Orientation to Ontario

## کډوالي

### د دایمي استوګنې وضعیت

د اونټاریو فرصتونه: اونټاریو د کډوالو نومونې پروګرام (OINP) اشخاص او د دوی کورنۍ په ایالت کې د له وړاندې تصویب شوې دندې وړاندیز پراساس د دایمي استوګنې وضعیت لهپاره نوموي.

د اونټاریو د فرصتونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، *1-800-267-7329* ته زنګ ووهئ یا لاندې لینکونو ته لاړ شئ: ontario.ca یا findlink.at/ONT_PNP.

د اونټاریو د فرصتونو پروګرام تر ایکسپرېس انټري سیسټم لاندې مختلف جریانونه لري:

**د بهرني کارګر جریان** - د مدیریتي، مسلکي یا حرفوي دندې ترلاسه کولو لهپاره، یو ګمارونکی کولی شي د بست (پوزېشن) د تصویب غوښتنه وکړي. وروسته له دې چې بست (موقف) تصویب شي، بهرني کارګر د OINP غوښتنلیک بشپړوي.

**د بشري پانګې جریان** - د کاناډا د کالجونو او پوهنتونونو فارغان کولی شي په اونټاریو کې د دوه کلن ډیپلوم یا درجې برنامې یا یو کلن پوسټ فارغ سند برنامې بشپړولو وروسته غوښتنه وکړي. غوښتونکي باید په مدیریتي، مسلکي یا فني بست (پوزېشن) کې د دایمي بشپړ وخت مسلکي کار وړاندیز ولري. ګمارونکی باید له اونټاریو فرصتونو څخه د کار د تصویب غوښتنه (opportunities Ontario) وکړي

**د Ph.D او ماستري فارغان** - د اونټاریو له یوه په شرایطو برابر پوهنتون څخه د Ph.D یا ماسټرۍ پروګرام څخه فارغ کسان تر فراغت وروسته د دوو کلونو په موده کې غوښتنه وکړي. د دندې وړاندیز اړین نه دی.

### د دایمي استوګنې وضعیت لپاره د فدرال پروګرامونه

د فدرال د لاندې یادو شویو پروګرامونو په اړه د نورو معلوماتو لهپاره د کډوالۍ، کډوالو او کاناډا تابعیت لرونکو ادارې په دې ترونې وګورئ: canada.ca یا findlink.at/applyImmCa.

### د کاناډایي تجربې ټولګي

د هغو اشخاصو لهپاره چې په کاناډا کې د بشپړ وخت (فول ټایم) لږ ترلږه ۱۲ میاشتې مدیریتي، مسلکي یا حرفوي کاري تجربه ولري

### فدرالي ماهر کارګران

د هغو خلکو لهپاره چې د اړتیا وړ شرایط او معیارونه پوره کوي؛ لکه کاري‌تجربه، زدهکړې، د ژبې وړتیا او په کاناډا کې د ځان او کورنۍ د ملاتړ لهپاره کافي اندازه پیسې لري.

### مسلکي یا حرفوي دندې

دا کټګورۍ د هغو خلکو لهپاره ده چې د یوه مسلکي کار لږ ترلږه دوه کاله د بشپړې کاري ورځې کار کاري مخینه ولري او د بشپړې ورځې کار وړاندیز یا په خپل مسلک کې د اونټاریو د صلاحیت لرونکې ادارې تاییدي سند ولري.

### پانګهوال او متشببثین

د هغو خلکو لهپاره چې لږترلږه په کاروبار کې پانګونه کوي، هغه که د پانګوالو ځانګړې ډلې له خوا وي یا هم په کاناډا کې د پانګونې د ملاتړ صندوق له لوري.

### شخصي کاروباري خلک

دا کټګوري د هغو خلکو لهپاره ده چې غواړي په اونټاریو کې د کلتوري فعالیتونو، لوبو یا د زراعت د مدیریت په برخو کې ازاد کاروبار پیل کړي.

**1-855-626-0002**
https://settlement.org/o2o

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

## د کورنۍ ملاتړ (سپانسرشیپ)

دایمي اوسېدونکي یا د کاناډا اتباع کولی شي د ژوند د شریک، په مور او پلار متکي اولادونو، مور او پلار، نیا او نیکه په ګډون په شرایطو برابر د کورنۍ د نور کسان سپانسر کړي. سپانسر کوونکی (ملاتړکوونکی) باید د عاید اړتیاوې پوره کړي ترڅو وښيي چې دوی د خپلې کورنۍ ملاتړ کولی شي.

## ژوند پالونکي

وړ او په شرایطو برابر کارکوونکی کولی شي د ماشومانو، زړو اشخاصو یا معلولیت لرونکو اشخاصو د د پالونکي په توګه غوښتنه وکړي. غوښتونکی باید په کاناډا کې له یوه ګمارونکي سره لیکلی تړون ولري. له دوه کلونو لهپاره د بشپړ وخت کار کولو وروسته د ژوند پالونکي په توګه کولی شي د دایمي استوګنې د ترلاسه کولو غوښتنه وکړي.

